## سرخبرې

ټوله ستاینه د لوی الله (ج) ده، چې له هر څه بې نیازه دی او خپل نور یې د انسان په تیاره زړونو کې روښانه کړی دی، چې پرته له کوم امتیازه ټولو انسانانو ته یې د لیدلو لپاره سترګې د اورېدلو لپاره غوږونه او د ویلو لپاره یې ژبه ورکړې، چې په همدغه الهي نعمت سره ټول د ځمکې پر مخ انسانان یو له بله سره پرې پوهول او راپوهول کوي؛ نو موږ ته په کار ده، چې په دې ژبه د الله (ج) شکر ادا کړو.

غواړم ووایم، چې ډېر د خوښۍ ځای دی وروسته له ډېرو ناامنیو څخه زموږ په ګران هېواد کې څښتن تعالی داسې شرایط برابر کړل، چې له جګړو څخه سترې شوي ځوانان د پاکې مینې نه ډکې فضا کې د مسلمان ورور ترڅنګ خپلو زده کړو ته ادامه ورکړي، الحمدلله زه هم یوه له دغو څخه یم، چې وروسته له څلورو کالو تحصیل څخه مې دا دی د فراغت ویاړ مې د بلخ پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د پښتو څانګې څخه ترلاسه کړو. د څښتن تعالی څخه ددې فرصت غواړم؛ ترڅو وکولای شم په راتلونکي کې خپلو هېوادوالو ته چې کلونه، کلونه کېږي کړاوونه یې لیدلي دي، خدمت وکړم.

لکه څنګه، چې ښکاره ده، هر هغه محصل، چې فارغېږي د مونوګراف په نوم رساله د یو لارښود استاد تر نظر لاندې لیکي، ما هم د پښتو څانګه کې استاد تر نظر او لارښوونې لاندې په لنډیو کې د ښځو احساسات باندې یوه څېړنیزه رساله یا مونوګراف ولیکم.

ښکاره خبره ده، چې په دغسې موضوع باندې څېړنه کول په یوه وړه رساله کې ناشونی کار دی؛ خو بیا هم، چې کوم لږ او ډېر مالومات، چې د خپل لارښود استاد محمدحنیف "صافی" په مرسته او لارښوونه راټول کړي دي، هیله لرم، چې د ادب مینه والو ته یو څه په لاس کې ورکړم، په اخر کې له خپلو ټولو استادانو څخه مننه کوم، چې په دې لړ کې له ما سره مرسته کړې ده؛ خو په

ځانګړې ډول د خپل لارښود استاد څخه مننوویه یم، چې له ما څخه یې هیڅ راز مرسته نه ده سپمولې.

په درنښت

رقیه

# لنډيز

## ۱. لنډۍ ( ټپه، مسره، ټکۍ ):

لنډه د مفرد مؤنث کلمه ده،لنډۍ د لنډه بڼه ده، د لنډۍ لومړنۍ برخه لنډه او دويمه برخه يې اوړېده ده، له دې کبله ورته لنډۍ وايي. لنډۍ په پښتو شاعرۍ کې تر ټولو کوچنۍ شعري فورم دی؛ خو د مانا د ځواک او ليږد له پلوه نه يوازې په پښتو شاعرۍ؛ بلکې په نړيواله شاعرۍ کې يې سارې لېدل شوی نه دی. د لنډۍ کمال په دې کې دی، چې مجموعا په ۲۲ څپو يا دوو مسرو کې درونند مانيز بار او ښکلا ليږدوي. د لنډۍ لومړۍ مسره ۹ او دويمه ۱۳ څپې لري، لنډۍ قافيه نه لري؛ خو د دويمې مسرې په پای کې يوه اهنگينه کلمه لري، چې د لنډۍ ټول آهنگ بشپړوي. هره لنډۍ بايد د زور(ه) په واول پايته رسېدلې وي. که چېرې د دويمې مسرې په پای کې دا زور(ه) ر انه شي؛ نو اهنگ يې نيمگړی پاتې کېږي. لنډۍ د پښتو ژبې د فونولوژيکي (غريز) جوړښت تابع ده او د هغې پربنسټ جوړيږي. په نورو ژبو کې ددې ډول شعر څرک لېدل شوی نه دی او نه په ژباړه کې ددې آهنگ ساتل شوی دی. پر ټولو لنډيو باندې يو قانون د تطبيق وړ دی، يانې دا، چې د هرې لنډۍ لومړۍ مسره بايد حتمي۹ او دويمه ۱۳څپې وي. د هرې لنډۍ د لومړۍ مسرې څلورمه او اتمه څپه او د دويمې مسرې څلورمه اتمه او دولسمه څپه، خجنه وي. [٧(٥م)]

امانتي مې گور کې کېږدئ

که يار خبر شي ما به خپل وطن ته وړينه [٩(٩٠م)]

**کليدي لغتونه**: لنډۍ، فولکلور، ادبيات، شفاهي، ښځې.

# نیولیک

**سرلیک..........................................................................................................مخګڼه**

لومړی څپرکی

د څېړنې کلیات


د مسئلې بیان.......................................................................................................۱

ســریــزه.............................................................................................................۲

د څېړنې موخې:....................................................................................................۲

د څېړنې اړتیا او اهمیت:........................................................................................۳

دڅېړنیزې پوښتنې:................................................................................................۳

اصلي پوښتنې:......................................................................................................۳

فرعي پوښتنې :.....................................................................................................۴

دڅېړنې فرضیات:..................................................................................................۴

اصلي فرضیه:........................................................................................................۴

فرعي فرضیه:........................................................................................................۴

څېړنیز بدلونونه:...................................................................................................۴

د څېړنې مخینه:.....................................................................................................۵

د څېړنې لاره:........................................................................................................۵

د څېړنې مواد:.......................................................................................................۶

د څېړنې محدودیتونه:.............................................................................................۶

د څېړنې جوړښت:..................................................................................................۶


دویم څپرکی

فولکلور څه ته وايي؟

د فولکلور یا ولسي ادب پیدایښت......................................................................................۸
د فولکلوري ادبیاتو اهمیت: ..........................................................................................۹
د پښتو ولسي ادبیاتو ځانګړنې...................................................................................... ۱۰
یـــوه وعـده را سره کېـږده........................................................................................ ۱۱
سپـوږمی ځرک وهـه راخېـژه ...................................................................................... ۱۲
که په مېـونـد کې شـهیـد نـه شوې ............................................................................ ۱۲
د پښتو فولکوري ادبیاتو وېش ..................................................................................... ۱۳
د لنډیو تعریف............................................................................................................ ۱٤
۱. لنډۍ ( ټپه، مسره، ټکۍ ):.......................................................................................... ۱٤
د لنډیو ځانګړتیاوې...................................................................................................... ۱۷
هایکو او لنډۍ............................................................................................................... ۱۸

## درېیم څپرکی

## په لنډیو کې ښځینه احساسات

د جنسیت له مخې د لنډیو ډولونه................................................................................. ۲۵
ښځینه لنډۍ ................................................................................................................. ۲٦
نارینه لنډۍ .................................................................................................................. ٤۰
پایله ............................................................................................................................ ٤۸
وړاندیزونه.................................................................................................................... ٤۹
اخځلیک ...................................................................................................................... ۵۰

## لومړی څپرکی

## د څېړنې کلیات

### د مسئلې بیان

څرنګه چې څېړنه یا تحقیق د حقایقو د کشف لپاره یوه اړینه مسئله ده. نو پښتو ژبه هم یوه لرغونې ژبه ده ،داهم اغواړي چې د نوي نسل په متو باید خپلې پوهنیزې لوړتیا ته ورسیږي.خو ددې لپاره په کار ده چې، د نورو زده کړو ترڅنګ نوی او ځوان نسل په پښتو لیکل وکړي. او د وخت د غوښتنو سره یې سمه بډایه کړي. که څه هم په بلخ کې ګڼو کسانو په پښتو لیکل کړي دي خو بیا هم د پښتو ژبې لیکوالان او آثار کم دي. هغه آثار چې لري هغه هم یا له منځه تلي او ورک شوي دي، او یا خواره ، واره په بیلابیلو ځایونو کې پراته دي چې هیڅ ترینه استفاده نشي کیدای . مانا داچې دغه مسئله یوې بشپړې څېړنې ، راټولولو او انسجام ته ضرورت لري. دا کارکه له یوه اړخه یو مثبت پرمختګ دی، او له بله اړخه د دغه لیکنو او ارزښتمنو آثارو څخه نور په تیره راتلونکو نسلونه ښه ګټه پورته کولای شي. دا یوه جوته خبره ده . چې هره څېړنه د یو ې اړتیا او ستونزې له کبله بنه نیسي.

## ســريــزه

دا يوه ريښتينې خبره ده، چې ولسونه ادبيات زېږوي او ادبيات بيا د همدې ولسونو د روزلو دنده پر غاړه لري په ادبياتو کې لومړی ولسي ادب د ولسونو له خوا رامنځته کيږي، چې دا يوازې ادب نه؛ بلکې د همدې ټولنو او پرګنو ټولنيز ژوند د ټولو مادي او معنوي ارزښتونو ريالستيکه او ريښتينې هنداره ګرځي او دلته دوی د عاطفيزو غږونو بشپړه انګازه او پژواکونو ترې اوريدل کېږي.

ولسي ادب، چې فلکلوريک ادب يې هم ګڼو دپرګنو د ميتولوژيکي ايډيالوژي، اخلاقي معيارونه، عنعنيز اړخونه او د سيمه ايزو بديعي او هنري ادبياتو د استازيتوب دنده پر غاړه لري.

د هر ولس ادبيات وي دهغې ولس د مذهب او عقيد وي معنوي خصوصياتو په کرلېچونوکې خروبېږي او د ولس له پاره د انساني ارزښتونو د غوښتلو په موخه په ټولنه کې رامنځته کيږي، په پښتوادب کې هم په دې اړه ډېرې څرګندونې ځای په ځای راغلي که مذهب، تاريخ او که حماسه ده، د پښتو شفاهي ادب کې ورته پوره ځای ورکړل شوی دی . او د خپل ولس يې په دې برخه کې پوره روزنه کړې ده.

ولس هغه چينه ده، چې ژوند ترې راټوکېږی. او ژوند د انساني فطرت د ښکلا ښېلو انځورونو هنداره ده. فولکلور هغه ستره کلتوري پانګه ده، چې ملت په معنوي لحاظ ژوندی ساتي. د يو ملت فولکلور د هغې ملت، فرهنګ، ژبه، عنعنه او اساطيري پديدې ژوندۍ ساتي، چې همدغه پورتنې پديدې د ملت روح ګڼل کېږي.

### د څيړنې موخې:

په هره علمي او ادبي موضوع کې د حقايقو کشف د څيړونکي هدف جوړوي. هرکله چې، يو څيړونکی موضوع ټاکي نو، د امکان تر حده يې څيړي او هدف ته ځان رسوي. لومړنی هدف مې ددې څيړنې په بشپړلو کې د سيمينار څخه دفاع کول دي. ځکه د دې دورې په پای ته رسولو سره هر استاد مکلف دی، چې سيمينار وليکي. د همدې اړتيا له مخې ما خپل په سيمينار کې( په لنډيو کې د ښځو احساسات)ترعنوان

لاندې وليکه. په دوهم ګام کې غواړم د ادبياتو ارزښت په ګوته کړم. ترڅو چې، نورو ته د موادو په موندلو کې يو څه ستونزه اواره شي. په دغې معاصرو ادبياتو کې نه يوازې په پښتو ژبه پورې اړوند علمي او ادبي مسئلې څېړيدې، بلکې، د ټولو شاعرانو، ليکوالو، اديبانو، وياړونه يې هم خوندي کړي دي.

پاتې دې نه وي چې، په دغې د پښتو معاصرو ادبياتو کې نه يوازې د پخوانيو وتليو، ليکوالانو، شاعرانو او محققينو ليکنې او مضمونونه خوندي دي. بلکې، ډيرشمير زلمي ليکوال او شاعران يې هم ځاى لري. په حقيقت کې يې دخپلې څېړيداېر مهال يو فکري، علمي او ادبي انقلاب هم رهبري کړى دى. په زرينو پاڼو کې يې د لنډو او اوږدو څېړونو نه نيولې آن تر تخليق، تصنيف، تأليف، علمي، ادبي، تاريخي او معلوماتي مطالبو د چاپ توفيق موندلى دى. په دغو مطالبو کې نه يوازې د خپل وخت بلکې ، د راتلوونکي پښت علمي تنده هم پرې ماته شوې ده. او اوس هم دغه تنده په پوره ډول خړوبولاى شي.

اصلي موخه: د لنډيو پراختيا او ليکوالو، شاعرانو هلې ځلې.

فرعي موخه: د دوى اثار چاپ شوي او منظوم او نثري ډولونو باندې پوهېدل.

## د څېړنې اړتيا او اهميت:

په لنډيو کې د ښځو احساسات کې ډېر ادبي مکتبونه دي او ډېر شاعران په دا ادبي مکتبونو کې زده کړې کړي دي ؛ خو معاصر ادبيات يو ادبي خدمت دا دى چې په پښتو ادب کې ځانته ځلانده ستوري او ډېر شاعران، ليکولان يې روزلي دي، چې دوى بيا په زرګونو آثار او کتابونه ددې ژبې په بيلا بيلو اړخونو باندې ليکلي دي، چې ډېر کتابونه او آثار يې ليکلي دي ؛ نو ځکه په دې موضوع (په لنډيو کې د ښځو احساسات) ده څېړنه مهمه بولم او اړتيا يې داده چې ددې معلوماتو په لرلو سره يو استاد کولاى شي د پښتو معاصرو ادبياتو په اړه باندې معلومات لاسته راوړي.

## دڅېړنيزې پوښتنې:

## اصلي پوښتنې:

١. لنډيو کې د ښځو احساسات په اړه معلومات څومره مهم دي ؟

۱. د اصلي پوښتنې ځواب: د لنډیو کې د ښځو احساسات په اړه معلومات د پښتو ژبې محصلینو لپاره ډېر ګټه ور دي؛ ځکه چې په لنډیو کې د ښځو احساسات کې ډېر لوی لوی شاعران او لیکوالان تېر شوي دي. لکه رښتین صاحب، خادم صاحب، ملنګ جان صاحب ، بختانی صاحب، الفت صاحب او داسې نور...

**فرعي پوښتنې :**

۱- د لنډیو کې د ښځو احساسات د شاعرانو علمي هڅې موږ ته په کومه برخه کې معلومات راکوي ؟

۱. ځواب: د معاصرو ادبیاتو د شاعرانو علمي هڅې موږ ته د پښتو ژبې ودې او شاعري، لیکوالي په برخه کې معلومات راکوي.

**دڅېړنې فرضیات:**

په پښتو ادب کې ډېر شاعران او لیکوال شتون لري؛ خو موږ فرضیات دلته د لنډیو کې د ښځو احساسات او پښتو ژبې شاعران او لیکوال دي، چې اوس یې ترڅېړنې لاندې نیسو.

**اصلي فرضیه:**

۱. د اوسنۍ دورې په لنډیو کې د ښځو احساسات (د پیل او ودې پړاوونه ) باندې خبریدل .

**فرعي فرضیه:**

۲. د (په لنډیو کې د ښځو احساسات) له شعري مفکورې څخه خبریدل.

**څېړنیز بدلونونه:**

د څېړنې بنسټیز مقصد د حقیقت پلټل او ثابتول دي، که څه هم د انسان د ژوندانه ډېر حقایق خلکو ته څرګند دي. خو د علم او ادب په برخه کې بیا ډېر داسې موضوعات شته چې، لا څېړنې او پلټنې ته اړتیا لري.

خپلواک بدلون: لنډيو کې د ښځو احساسات کې لوی ځان لري، چې موږ کولای شو د ادب تاریخ او همدارنګه تذکرو څخه دا ادب وپېژنو.

ناخپلواک بدلون: د علامه پوهاند رښتین له نا چاپو آثارو څخه قلمي دوه اثره ( نوې کتنه) او (غوره کتنه) چې د کابل ښار د دريو ورستيو لسیزو د خو نړیو جنګونو، لوټمار تالان څخه خوندي پاتې شوي دي، چې نوې کتنه هم چاپ ته چمتو ده.د اروا ښاد علامه پوهاند رښتين او دده د فرهنګيالي زوی اروا ښاد شهيد پوهنمل شېرخان رښتين او شيرېم تلين په مناسبت د علم او فرهنګ مينه والو او هېوادوالو ته يې د ډالۍ په توګه وړاندې کوو او د همدې اثر ( نوې کتنه) په چاپ کولو خپل دغه ارمان ته د عمل جامه ور اغوندو.

## د څېړنې مخينه:

لنډیو کې د ښځو احساسات په هکله مې معلومات راغونډ کړل او د معاصر ادبياتو مخکښو شاعرانو يوازې نومونه ذکر کړي دي. د د صديق الله رښتين، خادم، ملنګ جان او بختانی خدمتګار شخصیت او علمیت ډېر لوړ دي. په یو کوچني رسیمینار او په لږ وخت کې بیانولو امکان نه لري. بله داچې ما د معاصرو ادبیاتو کې د شاعرانو بيانول هم ساده کار نه و.

## د څېړنې لاره:

تحقيق او څېړنه درې ډولونه لري، کتابتوني، ساحوي، لابراتواري. زما دغه سیمینار د کتابتوني څېړنې په اډانه بانې اړونديږي. کتابتوني څېړنه هغه څېړنه ده، چې د کتابتون په محدوده فضا کې د کتابونو، سندونو، منابعو، مجلو، اخبارونو، ورځپاڼو او نظرياتو له مخې په تحريري سرچينو او منابع باندې ترسره کيږي .د کتابتون په څېړنه کې محقق د چاپي او قلمي اسنادو څخه ترلاسه شوي اطلاعات او معلومات تحليل، تفسير، توضيح او پرتله کوي، د دې څېړنې څخه په دوه ډول ګټه پورته کيږي: مستقيم نقل قول، او غیر مستقیم نقل قول.دا هم باید له یاده ونه باسو چې په دې څېړنه کې د مختلط یا ګډ روش څخه استفاده شوې ده. دا یوه کتابتوني څېړنه ده، ددې اثر د ليکلو لپاره مې د بحث سرليک په جوړولو

او د موادو په راټولولو کې له لارښود استاد او ځنې نورو مشرانو استادانو سره مشوره وکړه. د مزارشریف ښار شخصي کتابخانې هم ولټولې، چې بالاخره د الله په مرسته یو ښه مفید سیمینار جوړ شو.

### د څېړنې مواد:

په دې رساله کې مې د افغانستان چاپي او ناچاپو کتابونو څخه مې کار اخېستلی دی. د لسو کتابونو او ځینې نور تحلیلو څخه مې ګټه پورته کړې ده.د زیور الدین زیور کتاب، روهي صاحب ادبتاریخ، د جهاني صاحب کتاب څخه ، د غبار تاریخ، افغانستان در مسیر تاریخ د د عبدالواجد واجد کتاب، ادبیاتو تاریخ، د رښتین ادبتاریخ څخه او داسې نورو موادو او توکو څخه مې څېړنه سرته رسولې ده.

### د څېړنې محدودیتونه:

اوس وخت په افغانستان کې څېړنه کول اسانه کار نه دی؛ ځکه چې زموږ ټولنه تر اوسه پورې علمي کچې ته نه ده رسېدلې او که رسېدلې وي هغه هم لږ کسان به په کې پیدا شي. ما ته هم په دې سیمینار کې د لیکلو په وخت کې ځینې ستونزې او محدودیتونه رامنځ ته شول. لومړی دا چې ما ته د اخځلیکونو پیدا کولو کې ډېرو ستونزو سره مخامخ شوم، چې کتابتونونو ته لاړ شم او خپله موضوع وڅېړم. زه دا ویل غواړم اوس وخت کې د اسانتیاو څخه محدویتونه او ستونزې په ځانګړي توګه د پښتو ادب په برخه کې زیاتې دي.

### د څېړنې جوړښت:

زما مونوګراف ددې لاندې توکو څخه جوړ شوی دی، چې لومړي سر کې ( سریزه، د مسلې بیان، د څېړنې موخې، د څېړنې اړتیا او ارزښت، څېړنېزې پوښتنې،د څېړنې فرضیات، څېړنیز بدلونونه،د څېړنې مخینه، د څېړنې لاره، د څېړنې مواد، د څېړنې جوړښت او دویم قدم کې (په لنډیو کې د ښځو احساسات په هکله معلومات راغونډ شوي دي) په پای کې پایله، وړاندیزونه او اخځلیکونه راوړل شوي دي.

## دویم څپرکی

## فولکلور څه ته وايي؟

د خلکو ټولنيز ژوند او د ژوندانه طرز او دود ته فولکلور وايي. همدارنګه فولکلور ته په بېلوبېلو ژبو کې د فرهنګ عامه، خلک پېژندنه، دانش عوام، خلقيات او هم د اساطير او مېتولوژ نومونه ورکړل شوي دي، چې هر يو د خلک پېژندنې او د خلکو د فرهنګ معنې ورکوي. سربېره پر دې ښايي يادونه وشي،چې (( فولکلور )) يوه انګليسي کلمه ده، چې د ( خلک ) او ( لور ) څخه جوړه شوې ( خلک ) د خلکو او عوامو معنی ورکوي او ( لور) د علم او پېژندنې په معنې راغلی دی، چې په مجموعي توګه د نيکونو عقايدو د اجدادو رسمونه او د دوی د عقايدو او د همدې رسمونو دڅېړنې معنې هم ورکوي.[۶(۶)]

مېتولوژي او روايات ټول له عاميانه افکارو څخه راغلی، چې د دوی د عقاېدو غوښتنو او تعبيرونو ممثل دی. په دې افکارو، رواياتو، او افسانوکې په غالب ګومان بهرنی او نه ټاکونکی او طبيعی عناصرو خواوې ستره برخه لري، چې د شخصي عناصرو او افرادو په قالب کې را مينځ ته شوې او هغه څه چې په دې اساطير( مېتولوژي ) او فولکلور کې د زياتې پاملرنې وړ دي، هغه د فولکلور سمبوليکې خواوې او اتلانو پټ او مرموز کارونه دي. له دې اساطيرو او افسانو څخه د مړو او وروسته پاتې قومونو ښکاره او څرګند حقيقت دی. په اصطلاح کې فولکلور د خلکو او ولسونو عنعنو او عقيدو پېژندنې علم دی.[۶(۱۴م)]

## د فولکلور یا ولسي ادب پیدایښت

د فولکلور د پیدایښت او منځ ته راتګ په برخه ښایي ووایو: هغه وخت چې بشر د لومړي ځل له پاره د طبیعت له مشاهدو سره مخامخ شو؛ نو ددې موجوداتو او اشیاوو په مقابل کې چوپ او غلی پاتې نه شو او دخپل فکر د ډول سره سم یې څېړنه پکې وکړه. له هغې ورځې راهیسې چې انسان د وجود په ډګر کې قدم ایښی دی، تل یې زیار ایستلی، چې د اشیاوو او موجوداتو حقایق او ریښې ځانته معلومې کړي؛ نو ځکه له هر څه سره، چې مخامخ شوی فکر او غور یې په کې کړی، څو یې یوه نتیجه لاس ته راوړي او خپلې پلټنې دحل د تسکین لپاره یې د هر نا معلوم د معلومولو په غرض منډې را منډې کړي دي او د خپل محدود فکر له غوښتنې سره سم یې تر یوه حده د خپل ځان قناعت حاصل کړی او څرنګه، چې دې په هغه وخت کې د خپل ژوند لومړني پړاوونه یې وهلي او فکرې وده یې تر دې حده نه ده رسېدلې، چې د پیداښت ټول ارونه او معماوې حل کړي او نه یې دومره تجربه درلوده، چې خپلو تجروبو حاصل د خپلې لارې ډیوه وګرځوي او د هغې په رڼا کې خپلو څېړنو ته دوام ورکړي؛ نو په یو ډول خیالبافیو او موهماتو یې لاس پورې کړ او د هر څه لپاره یې اندې علت او دلیل وټاکه، چې همدا دلیلونه او علتونه ورو، ورو درواياتو، داستانونو، عقایدو او افکارو په شکل واوښتل او فولکلور یې منځته راوړ. فولکلور له لومړي ځل څخه سینه په سینه دداستان، کیسې، فکاهې، متلونو او انګېرنو په شکل په منظوم او په غیر منظوم ډول په شفاهي تو ګه تردې دمه رارسېدلی.(۶ ۲۰م)

فولکلوري کیسې، داستانونه او روایات باید ونه بڼل شي که څه هم د زمانې په کړلېچونوکې اوښتې را اوښتې خپل ابتدایې شکل یې له لاسه ورکړی دی؛ خو بیا هم یو لړ تاریخي وقایع او ملتونو د پېژندګلوۍ ډېر رازونه په کې پټ دي . مېتولوژۍ خپل قدر ښودلی او یو لړ تاریخي او د بشر پېژندنې پرابلمونه یې حل کړي دي. خلکو په خپلو فولکلوریکو اثارو کې هغه هنري څېرې ښودلې دي ، چې په خلق کیدو کې یې له عقل، ابتکار، فکر او احساس څخه کار اخېستل شوی دی. لنډه دا، چې مونږ هغه وخت د مبارزو انسانانو په تاریخ پوهېدلی شو، چې د فولکلور په هکله کره او پوره معلومات ولرو. (۶ ۲۱م)

### د فولکلوري ادبیاتو اهمیت:

ولس هغه چینه ده، چې ژوند ترې را ټوکېږي. او ژوند د انساني فطرت د بېلا بېلو انځورونو هنداره ده. فولکلور هغه ستره کلتوري پانگه ده، چې ملت په معنوي لحاظ ژوندی ساتي. د یو ملت فولکلور د هغې ملت، فرهنگ، ژبه، عنعنه، او اساطیري پدیدې ژوندۍ ساتي، چې همدغه پورتنۍ پدیدې د ملت روح گڼل کېږي. (۲۲م)۶

## د پښتو ولسي ادبیاتو ځانګړنې

۱_ پښتو ولسي منظوم ادب د عربي عروضو او اوزانو تابع نه دی، خپل ملي، ولسي وزنونه لري په سیلاب او هجا د شننې ووړدي.

۲_ ولسي ادبیات د موضوع له کبله د ولسي توب او کلیوالي ټولنیزو، اقتصادي، سیاسي او کلتوري اړیکو ځرګندونکي دي.

۳_ ژبه یې ساده، سوچه او خلکو یا ولس له ورځنۍ محاورې سره برابره ده.

۴_ ډېره مبالغه او غیر له حقیقته پکې بل شی نه لیدل کیږي.

۵_ افسانوي رنګ یې تربیوي اړخ لري، نه ویرونکی.

۶_ د پردو ژبوله تسلطه خلاص دی.

۷_ ښکلا، اسانوالی او ریښتیاوالی په ښه بڼه په کې ځان ښکاره کړی. ۸(۲۳۴م)

**مادي اړخ:** اوس، چې تاسو پوه شوئ، چې فولکلور په اصل کې د ولسونو د عنعنو او عقیدو پوهه؛ نودابه هم له یاده ونه باسو، چې ولسي ادب د خلکو د مادي او معنوي اړخ ته په پاملرنې د ولس انګېرنې د اوسني ساینس زیږنده ده. که دیوان په افسانو کې له یو ځای څخه بل ځای ته د سترګو په رپ کې ځان رسوي یا کوم افسانوي اتل په یوازې تن له زرو کسانو سره جنګېږي او د ویښته په سوځیدو د دیوانو او ښاپیرو حاضریدل دا د همدې زمانې د الوتکې، مبائیل، انټرنیټ او توغندي پخوانۍ بېلګې دي، چې د ولسي ادب د مادي اړخونو کره او ریښتینې نماینده ګي کوي. په مادیاتو کې د سرچینې په استازیتوب کار او زحمت دی که کرکیله، ترکاني او نورو جنګي مواردو کې راښکیلول د شفاهي ادب د ریښتیني ولسیتوب ټولنیز هدف دی. زمونږ په پښتو ادب کې مادي اړخونه هم د نړۍ مترادف؛ ځکه دي، چې دې کهول د مادي پرستو پر وړاندې خپل عکس العملونه ښودلي؛ نو په همدې اساس یې خلک دې ته چمتوکړي، چې د کرکیلې زیار وزحمت او پوندګرۍ له لارې ځان خپل

هدف ته ورسوي، چې ددې ښېلګې مونږ په قبل الميلاد کې لرو د پښتو او اريايانو په مشهور کتاب (ويدا) کې راغلي، پوه او دانشمندانسان تل په کرهنه کې بوخت وي. اى انسانانو ! دغنمو او نورو شيانو د کرهڼې له پاره په سپاره، ځمکه څيرې کړئ، ښکلې اربې وچلوئ او ځانونه پرې وساتئ په اوستا کې، چې د پښتنو او افغانانو د عنعنو او ميتولوژۍ کتاب دى. زردشت ليکلي ځانونه په کرهنه او مالدارۍ تشويق کړى. همدارنګه د تيرو اسلافو په څېر اوسني پښتانه هم دکرهڼې او زراعت له لاري خپل د ژوند ستونزې حلول غواړي. ٨(٢٣٥م)

شـولې ټکومـه تـا به واده کـړمـــــه

پـه خداى(ج) مې دې قسم وي پلانې ته به دې ورکمه ٨(٢٣٥م)

**معنوي اړخ:** د ادب آره موخه د خلکو او ولسونو روزنه او تربيه ده . که د هر ولس ادبيات وي د هم هغې ولس د مذهب او عقيدوي معنوي خصوصياتو په کړلېچونوکې څرووېږي او د ولس له پاره د انساني ارزښتونو د غوښتلو په موخه په ټولنه کې رامنځته کيږي، په پښتو ادب کې هم په دې اړه ډيرې څرګندونې ځاى په ځاى راغلي که مذهب، تاريخ، او که حماسه ده. د پښتو شفاهي ادب کې ورته پوره ځاى ورکړل شوى دى. خپل ولس يې په دې برخه کې پوره روزنه کړې ده، راځئ ،چې وګورو، چې په پښتوادب کې تر کومه حده معنوي ځواک غښتلى دى. وعده او ژمنه په پښتنو کې تر هر څه لوړه او ستره پانګه ګڼل کيږي، چې دلته همدا اثر داسې راغلى:

يـــوه وعـده را سـره کېـږده

چې د صراط په پله به يوځاى سره ځونه ١٠(٤٨م)

ددې ترڅنګ چې پښتانه ځوانان څه ووايي، پښتنې پېغلې هم د خپل ولس ځوانان د کار په مرحله کې تاند او هاند ليدل غواړي او داسې هيلې څرګندوي :

سپـوږمۍ ځـرک وهـه راخـېـژه

اشنـا د ګلـو لـو کـوي ګـوتې رېبينه [۱۰](۵۲م)

حماسه د پښتنې کلتور په خټه کې داسې اخستل شوې، چې لکه روح او جسم کوم شی، چې د پښتو ادب ګاڼه ګڼل کېږي، هغه همدا حماسه او وياړنه ده، چې د وطن پرستۍ خوند په کې غالب دی. ددې په دليل مونږ د مېوند حماسه لرو:

که په مېوند کې شهيد نه شوې

خدايږو لاليه بې ننګۍ ته دې ساتمه [۵](۲۳م)

لنډه داچې د پښتو ولسي ادب له هره پلوه خورا بډای دی هېڅ داسې اړخ ترې نه دی پاتې، چې د ټولنې پورې اړه ونه لري.

## د پښتو فولکوري ادبیاتو وېش

په نړیواله کچه د فولکلور په هکله ډېرې وېشنې راغلي؛ خو مونږ ترې یو انتخابوو اوورسته خپلو پښتو ادبیاتو ته د کره کتنې پام ور اړوو.

فولکلور درې برخې لري :

۱_ شفاهي ادبیات

۲_ غیر شفاهي ادبیات

۳_ نیم شفاهي ادبیات

۱_ په شفاهي فولکلور کې : محاورې، متلونه، سندرې، چېستانونه، فکاهیات( ټوکې) دودونه، موسیقي، سیمه ایز خواړه او سیمه ایز ادب. [۸(۲۱۵م)]

۲_ په نیم شفاهي فولکلور کې : خرافاتي عقیدې ، سیمه ایزې لوبې نڅاوې او نور راځي. په عمومي تو گه ادبیات که دهرې ژبې وي په منظومو او منثورو وېشل کېږي همدا سې د پښتو ولسي ادبیات هم په ادب وېشل کېږي. [۸(۲۱۵م)]

پښتو منظوم شعرونه بیا په دوه بر خو وېشل کېږي:

**الف** : عامې ولسي سندرې یا شعرونه **ب** : ځانگړې ولسي سندرې

**الف:** عامې ولسې سندرې هغه دي، چې ویناوال یې معلوم نه وي، لکه: د مېند و سندرې، د ماشومانو سندرې، منظوم چېستانونه، د اتڼ نارې، سروکي، لنډۍ، د نکلونو نارې، کاکړۍ ،تاریخي نارې، منظوم پالونه، منظوم متلونه، ښځینه سندرې [۳(۶۴م)]

## د لنډیو تعریف

### ۱. لنډۍ ( ټپه، مسره، ټکۍ ):

لنډه د مفرد مؤنث کلمه ده،لنډۍ د لنډه بڼه ده، د لنډۍ لومړنۍ برخه لنډه او دویمه برخه یې اوږده ده، له دې کبله ورته لنډۍ وايي. لنډۍ په پښتو شاعرۍ کې تر ټولو کوچنۍ شعري فورم دی؛ خو د مانا د ځواک او لیږد له پلوه نه یوازې په پښتو شاعرۍ؛ بلکې په نړیواله شاعرۍ کې یې سارې لېدل شوی نه دی.  د لنډۍ کمال په دې کې دی، چې مجموعا په ۲۲ څپو یا دوو مسرو کې دروند مانیز بار او ښکلا لیږدوي. د لنډۍ لومړۍ مسره ۹ او دویمه ۱۳ څپې لري، لنډۍ قافیه نه لري؛ خو د دویمې مسرې په پای کې یوه اهنګینه کلمه لري، چې د لنډۍ ټول آهنګ بشپړوي. هره لنډۍ باید د زور(ه) په واول پایته رسېدلې وي. که چېرې د دویمې مسرې په پای کې دا زور(ه) ر انه شي؛ نو اهنګ یې نیمګړی پاتې کېږي. لنډۍ د پښتو ژبې د فونولوژیکي (غږیز) جوړښت تابع ده او د هغې پربنسټ جوړیږي. په نورو ژبو کې ددې ډول شعر څرک لېدل شوی نه دی او نه په ژباړه کې ددې آهنګ ساتل شوی دی. پر ټولو لنډیو باندې یو قانون د تطبیق وړ دی، یانې دا، چې د هرې لنډۍ لومړۍ مسره باید حتمي۹ او دویمه ۱۳څپې وي. د هرې لنډۍ د لومړۍ مسرې څلورمه او اتمه څپه او د دویمې مسرې څلورمه اتمه او دولسمه څپه، خجنه وي. [۷(۵م)]

امانتي مې ګور کې کېږدئ

که یار خبر شي ما به خپل وطن ته وړینه [۹(۹۰م)]

ددې لنډۍ څپیز، خجیز جوړښت په دې ډول دی:

U – UUU – UUU

U – UUU – UUU – UUU

له مانیز پلوه لنډۍ په بېلابېلو ډولونو وېشل کېدای شي. د پښتنې ټولنې د ژوند د ټولو ډګرونو انځورونه په کې کېدای شي او شوې هم ده؛ خو د شکل او جوړښت له مخې لنډۍ همدا یو ټاکلی شکل او قانون لري. دلته به یو څو لنډۍ د بېلګې په توګه وړاندې کړو:

یوه وعده راسره وکه

چې د صراط په پله به یو ځای سره ځونه [۹(۹۱م]

ستا به واده زما به مرګ وي

ستا به ډولۍ زما به کټ خاوروته وړینه [۹(۹۱م]

ولې دې بد راسره وکړه

زما همدغه هیله وه چې یار لرمه [۹(۹۱م]

څرنګه چې په لنډیو کې د وروستۍ مسرۍ وروستۍ کلمه اهنګینه وي او د وروستۍ څپې اهنګ یې لوړ او تر هغې د مخه څپې اهنګ یې لوېدلی شان وي (۹ )؛ نو دلته کېدای شي د لنډۍ هندسي جوړښت داسې ترسیم شي:

---

[۹(۹۱م]

لنډۍ داسې یو منظوم شعري فورم دی، چې پرته په پښتو ژبه کې نور په هېڅ یوې ژبه کې نه لیدل کېږي. لنډۍ دفورم له مخې خوراکوچنی؛ خو دمحتوا له مخې ډېر درووند معنوي بار لېږدوي، لنډۍ په پښتو ژبه کې ډېر لرغونی تاریخ لري. هغه وخت، چې اریایانو د کوم ځانګړي مطلب او موخې له پاره ګلان ربېدل اوله شیدوپی کیدای شي کومه مخصوصه دواء جوړېده نو دا خبره په دې ټپه کې ښه جوته کړې ده. [۳(۷۲م]

سپـوږمۍ څـرک وهـه راخیـژه

جانان د ګلو لو کوي ګوتې رېبینـه [۳(۷۲م)]

د لنډیو فورم له دوونیم بیتو څخه جوړ دی، لومړۍ مسره یې ( ۹ ) څپې او دویمه مسره یې(۱۳) څپې ده.

پـاس پـه کمـره ولاړه ګلـه

نصیب د بل شوې اوبه زه درخېژومه [۳(۷۴م)]

په کشمـالـو کې مې حلا ل کړه

چې جنازه مې ښاپیري اوچته کړینه [۳(۷۵م)]

× × ×

سپـوږمۍ تـاتـه دې سـلام وي

تـا بـه زما جانان ته ډېر کتلې وینه [۳(۷۵م)]

## د لنډیو ځانګړتیاوې

د دیوانونو شعرونه که د عربي عروضو تابع دي؛ خو دا شعرونه نه یوازې د عربي عروضو څخه بی نیازه دي. د سېلاب (Syuable) سیستم په اساس ځانته عروض لری، لومړی برخه یې لنډه (۹) سیلابه او دوهمه برخه یې اوږده (۱۳) سیلابه ده. ددې اشعار ویل ځرګند خصوصیت دا دی، چې زیاتره په کې د ښځې له خوا نارینه ته خطاب وی او څنګه، چې د ښځې احساسات تر نر رقیق ، تاثیرات یې تر نر اغیزمن او اغیز یې تر نرو خوندور دی؛ نو به لنډیو کې هم طبعاً تر نورو اشعارو خوند او اغیزه زیاته محسوسه کیږی، همدا شان هره یو لنډۍ د ملي موسیقي یو داسې نوټ بللی شو، چې پر مختلفو طرزو او آهنګو باندې کیدای شی، لکه : رزم ،بزم ،سفر ، ناستی، اتڼ ،غم او د خوښی د حالاتو د راز راز لحنونو سره سمون خوري یعنې هره یوه لنډۍ د ملي موسیقي پر ډول ډول آهنګونو او وزنونو باندې ږغیدای شي، دا څو لنډۍ ،چې دلته د پارسي او انګریزي ترجمې سره لوستونکو ته وړاندې کیږي دا ددې راز ملي اشعارو یوه ډېره وړه نمونه ده، که نه وی دا راز په زرګونو ،زرګونو لنډۍ شته، چې تر اوسه را غونډې شوې نه دي یوازې یوه برخه یې د پښتو ټولنې د کتاب په شکل چاپ کړې ده . که دا نمونه د لوستونکو خوښه شوه؛ نو بیا به زیار باسو، چې دا راز شعرونه یوه بله مجموعه د ترجمې سره مینوالو ته وړاندې کړو. د پښتو ژبې د ولسي ادب یو ځانګړی شعری صنف یا ټولګی دی، چې شفاهي ادب هم ورته وایي. لنډۍ د شعر د نورو ډولونو نه یو بیل او بشپړ ډول ځانګړی فورم لری، چې لومړۍ نیم بیتي یې نهه سیلابه او دوهم نیم بیتي یې (۱۳) سیلابه کیږي، چې دا ځانګړنې په نورو شعری فورمونو کې نه لیدل کیږی. په پښتو ولسي ادب کې د لنډۍ لپاره نور نومونه هم شته، چې د پښتون ولس لخوا په دې ټولو نومونو پیژندل کیږي. ټپه ،مصره او ټیکی، چې دې هر نوم ته یو ځانګړی فلسفه موجوده ده چې د بیلګې په ډول یې زه یادونه کوم. لنډۍ ته ځکه لنډۍ وایي، چې د سیلابونو له مخې لنډه او د مانا له پلوه ډېره اوږده او غښتلی وي::

د لنډې ونې نه دې ځار شم

لکه سیسي، چې په کمر ولاړه وینه[۳(۷۶م)]

## هایکو او لنډۍ

هایکو څه د پاسه څلورسوه کاله وړاندې، په جاپان کې وزېږېدله، خو لنډۍ زرګونه کاله وړاندې له پښتو او پښتنو سره یوځای رامنځته شوې ده.زمونږ په خټه کې نغښتې ده. زمونږ لوستی او نالوستی یې ویلی شي. د لنډیو په ویلو، پښتانه له یوې مخې شاعران دي.

سپوږمیه کرنګ وهه راخېژه

یار مې د ګلو لو کوي ګوتې رېبینه [۳(۷۲م)]

دا لنډۍ ثابتوي، چې پښتانه اریایان دي او زرګونه کاله وړاندې په بلخ کې اوسېدل. ځکه، بلخ ته نږدې، د البرز په غره کې یو ډول بوټی و، چې سوما نومیده. اریایانو به د سوما له بوټي شربت جوړاوه. د سوما بوټی، چې شیره لرله او د ورځې له خوا که رېبدل شوې وای، نو په لاسونو نښته. له همدې امله به اریایانو د شپې له خوا د سپوږمۍ په رڼا رېبدله. لنډۍ د فورم له مخې هم له هایکو سره توپیر لري. لنډۍ ټوله ۲۲څپې ده، یاني لومړۍ نیمبیتي ۹ څپې او دویمه یې ۱۳ څپې ده. هایکو ټوله ۱۷ څپې ده.

لنډۍ د موضوع له مخې ازاده ده، خو هایکو محدوده. لنډۍ د ژوند په هر اړخ غږېدلی شي. ښکلا، مینه، غم، درد، سوله،وطن، ټولنه، رواجونه، پښتونولي، مېړانه، مذهب او... د لنډۍ د موضوع یو وړوکی شمېر جوړوي، خو هایکو د طبیعت اړخ له ژوند سره لږوي.

اشنا مې وږی را نه لاړو

د دسترخوان خواته ورځم ژړا راځینه [۱(۴۲م)]

بنګړي نیم ښکته کړه نیم پورته

چې په خالي مړوند دې سر ولګوومه [۱(۴۲م)]

په لومړیو وختونو کې د هایکو Haiku او د دوه نورو ګړنو هوکو Hokku او هایکای Haikai تر منځ توپیر نه کېده، تردې چې په کال ۱۸۹۰ کې د ماساوکا شیکي Masaoka Shiki د هایکو د پوره پېژندې په اړه هڅې وکړې او هڅې یې اوبو یونه وړې. د هغه په زیار هایکو د یو خپلواك شعر په توګه غوره او رامنځته شوه، چې بیا د ټولو د منلو وړ وګرځېده. د هایکو نور مشهور شاعران ماتسو باشو MatsouBasho، یوسابوسون YosaBuson ، کوبایاشي ایسا Kobayashi Issa او نور دي. [۲(۱۳۹م)]

## درېیم څپرکی

## په لنډیو کې ښځینه احساسات

د پښتو ادب په لمن کې پښتو لنډۍ ځانګړی ځای لري، ځکه چې په لنډه او ساده ژبه ټول هغه تعریفونه په ځان کې رانغاړي چې د منظوم کلام لپاره اړین دي، درد، عاطفه، پیغام، اهنګ او رواني د پښتو ژبې په هره لنډۍ کې لیدل کېږي، ځیني بهرني لیکوال چې پښتو لنډۍ یې لوستي زیاترو په خپلو نظرونو کې پښتو لنډۍ ددغې ژبې منظوم شهکارونه بللي. (۴م۳۴)

اوسمهال هم د نورو ژبو ځیني لیکوال او شاعران په دې قانع دي چې د پښتو ژبې له هرې لنډۍ څخه دیوه بشپړ شعر الهام اخیستل کېږي. د بېلګې په توګه د د اردو ژبې مشهور شاعر احمد فراز چې د پښتو ژبې لنډۍ لوستي په یوه نه یوه بنه یې د هغو لنډیو پیغام او مفهوم په خپلو شعرونو کې ځای کړی او یو نوی رنګ یې ورکړی.

دا چې پښتو لنډۍ له کومه ځایه سرچینه اخلي دا به یو تکراري بحث وي؛ خو ددغې خبرې څېړنه ضروري ده. د پښتو لومړنی لنډۍ ولولو؛ نو له ورایه په کې د ښځې احساساتو څرګندونه کېږي او دا په زبات رسېږي چې پیل به یې ښځې کړې وي. (۴م۴۲)

سپوږمیه کړنګ وهه راخېژه

یار مې د ګلو کر کوي ګوتې ریبینه (۳م۷۲)

کېدای شي زما له نظر سره ډېر خلک موافق نه وي، خو کومې لنډۍ چې کلاسیکي دي او له ډېرې پخوا زمانې څخه سینه په سینه تر موږ را رسېدلي زیاتره د ښځینه احساساتو او ښځینه محرومیتونو څرګندونه کوي یانې دا چې ښځې کله دخپلو کورونو د څلورو دیوالونو شاته ډېر ځورېدلي او یا یې لړه خوښي په برخه شوې نو په لنډیو کې یې د خپلو احساساتو څرګندونه کړې ده.

خو هغه لنډۍ چې د ښځینه و له خوا ویل شوي د محرومیت  تله په کې درنه ښکاري راځۍ په پښتو لنډیو کې د ښځینه محرومیتونو یو څو بېلګې وګورو.

په ډېرو پښتني سیمو کې دا دود دی چې د خپلو لوڼو د ودولو پر وخت ترې پوښتنه نه کوي او دا خبره یو شرم ګڼي، که څه هم د اسلام په مقدس دین کې د هلک او نجلۍ خوښه شرط ده خو په پښتني سیمو کې د غیرت تر نامه لاندې د اسلام دغه اصل تر پښو لاندې کېږي، د نارینه و چې چا ته خوښه وي خپله لور خور ورته ودوي، پښتني پېغلې چې کله له داسې حالت سره مخ شوي نو پرته له دې چې له سوزه خپل احساسات په لنډۍ کې راونغاړي نور یې هېڅ له وسه نه دي پوره شوي. په لاندې لنډیو کې ددغه دود او د پښتنو نجونو محرومیت له ورایه ښکاري:

تر شمل پورې دې واده کړم

تر شمل پورې څوک غوایه نه ورکوینه [۴(۵۶م)]

تورې تیرا نه دې کړم تېره

ما به مې خپلې مور ته څوک ورسوینه

تر لې تربور دې مېړه مه شه

په لښتو غنو دې وهي بیا دې شړینه [۴(۵۶م)]

زیاتره وخت داسې هم شوي چې پښتنې نجونې د پلار کور کې زړې شوي، ځکه په پښتنو کې اوس هم دا دود شته چې هر چا ته خور لور نه ورکوي، کله داسې شي چې د نجلۍ پلار او مور هر چا ته زړه نه ښه کوي د نجلۍ سر په کور سپین شي او کله بیا د پلار او یا کورنۍ د کړنو له امله څوک زړه نه ښه کوي چې نجلۍ وغواړي، په داسې حالاتو کې نجلۍ له شرمه هېڅ نه شي ویلای خو کله چې یې د پیغلتوب غوښتنې او احساسات ډېر وځپي نو له ځان سره داسې یوه لنډۍ زمزمه کړي:

ټولې همزولې مې واده شوېلن

زه بدقسمته د پلار کور کې ناسته یمه [۴(۶۶م)]

سر مې د پلار په کور کې سپین شو

لکه ډوډۍ په تناره وسوم مینه[۴(۶۶م)]

که چېرې د پورتنیو لنډیو شاعرانه اړخونو ته وکتل شي، هره نیم بیتي او یا پوره لنډۍ دلوستونکي او یا اورېدونکي په ذهن کې یو ذهني انځورجوړوي لکه ( په تناره کې د ډوډۍ سوزېدل) چې هم ذهني انځورجوړوي او هم یو دردوونکی پیغام اورېدونکو او لوستونکو ته وړاندې کوي.

دپښتنو ښځو یو بل محرومیت دادی چې د مېړه په کور کې ورسره سم چلند نه کېږي، د اسلام په مقدس دین کې ښځې او نارینه یو ډول حقوق لري خو په زیاترو پښتني کورنیو کې ښځې ډېر بې ارزښته ساتل کېږي نه یې غوښتنو ته پاملرنه کېږي او نه هم ښځینه خواهشاتو ته، تر دې چې دخوابنې او یا د کور دځینو نورو غړو له خوا پوزې ته راشي، کله کله داسې هم نه وي د مېړې مور، ورور او یا نورو له خوا هم رټل کېږي او د ځوانۍ هغه مسته دوره چې باید په خوشحالۍ تېره شي په غمونو کې تېرېږي په لاندې لنډیو کې ددغو پېښو او واقعاتو انځورونه له ورایه برېښي:

ټېل مې وهه بنګړي مې مات شول

مور مې مېره ده ما په کور کې نه پرېږدینه [۱(۶۴م)]

ځان به په ډک سیندکې لاهو کړم

ستا د سپېره کور به ونه کړم ارمانونه

دغرونو ترخې مې خوراک وای

خوراک مې نه وای د موزي د کور غمونه

د بنې ترس راباندې تېر شو

زه ددوزخ د لمبو څه پروا لرمه[۱(۶۴م)]

کور دې د غم بندیخانه ده

دخوشحالۍ باران په کال کې نه راځینه [۱(۷۰م)]

بنګړي د ټولې دنیا دود دي

زه له نیستمن جانانه نه غواړم دودونه

توتان پاخه ممانړه توري

زه د موزي د ډوډۍ څه پروا لرمه

قربان قربان د دادا کوره

له ډکه شکوره به یوازې تاوېدمه

باهو مې و په لاس مې نه کړل

د موزیګي په کور کې اوسم تش لاسونه [۱(۷۰م)]

پورتنۍ لنډۍ داسې انځورونه لېږدوي چې هره یوه یې دپښتني سیمې یو شهکار دی د بېلګې په توګه د توتانو او ممانړو د پخېدو انځور چې پښتنې نجونې او یا هم مېرمنې په غرنیو سیمو کې ځانګې په خپلو ټیکریو کې ځنډي او بیا یې د یخو چینو او یا هم ګودر په غړه په مزه مزه خوري. رښتیا هم چې د فطرت د داسې یوې خوږې لوښې په وخت کې به څوک د چا د ډوډۍ څه پروا کوي، او بیا هغه ډوډۍ چې د اوښکو په بدرګه خوړل کېږي.

یوه بله خبره چې پښتني ښځې ډېرې ځوروي هغه د پښتنو غریبي ده، زیاتره پښتانه خپله روزي پهنورو هېوادونو کې لاسته راوړي که پخوا پښتنو هند او یا هم نورو سیمو ته سفر کاوه اوس هم ډېرو بهرنیو هېوادونو کې د مسافرت شپې سبا کوي او پښتنې مېرمنې یې په کورونو کې لارې څاري داسې هم شوي دي چې تر واده شل ورځې او یا لس ورځې وروسته نارینه مساپرې ته تللي او بیا ځو کاله بېرته نه دي راستانه شوي، پښتنې مېرمنې چې کله دغسې حالاتو سره مخ شوي نو د خپل زړه براس یې په لنډیو کې ویستلی او د زړه خبرې یې په نا اګاهانه ډول داسې اهنګین له زړونو راوتلي چې په یو شرنګ د اورېدونکو یا لوستونکو پر زړونو پرېوځي او دا پیغام لېږدوي چې د مېړونو په نشتوالي کې پښتنې مېرمنې څومره زوريږي.

مساپري دې ډېره وکړه

راځه راځه روزي به خدای رار سوینه[۱(۷۳م)]

دا ستا دیدن زما اختر دی

ته مساپر یې زه به څه کړم اخترونه

پالنګ مې جوړ کړ ته رانغلې

لکه منګور په کې یوازې تاوېدمه[۱(۷۳م)]

دغسې ډېرې لنډې په پښتو ژبه کې لیدل کېږي چې هره یوه یې یو محرومیت، یو پیغام او یو درد لېږدوي، زما له دې مطلب نه دا موخه نه ده چې خدای مه کړه د پښتنو کلتور مې غندلی وي په هره ژبه او هر قوم کې ځیني منفي دودونه شته، همداسې مثبت اړخونه هم لري، که د پښتو ژبې مثبت اړخونه وڅېړو نو پښتنې همدومره قدر او قیمت چې په پښتني کلتور کې لري په نورو کلتورونو کې یې ښایي ونه لري خو ما دلته یوازې د پښتو لنډیو کې د محرومیت پر موضوع دا لیکنه کړې وه هیله ده لوستونکي راځخه خوابدي نه شي.

## د جنسیت له مخې د لنډیو ډولونه

د لنډیو وو یونکي زیاتره وخت تور سرې دي. او د لنډیو ډیره برخه د ښځو له خوا ویل کیږي، او ویل شوې ده. د لنډیو د منځ ته راتګ په باب کومه خاصه نیټه نه شته او اټکل کیږی، چې د زرو کالو څخه هم بخوا قدامت لري. (۲۱۵۳م)

د لنډی بله ځانګړنه داده، چې شاعر یې معلوم نه وي. د هر چا یعنې د هر پښتانه او پښتنې د خیال او زړه خبرې دي. بله داچې وخت او ځا یې هم معلوم نه دی، چې د چا لخوا، څه وخت او په کوم ځای کې ویل شوې ده او نه یې چا ته د تعداد پته لګیږی. د لنډیو کتابونه چاپ شوی؛ خو د تعداد په اړه یې څوک څه نه شی ویلی او نه یې کوم لیکوال ته څوک منسو بولی شی ،نه څوک په ویلو کې انتیظار باسي. حتی کله کله یې خلک یو د بل په وړاندې د مسابقې په ډول هم وایې په تیره پښتنې پیغلې او زلمیان لکه دا ټپه:

د ټپې وار راسره کیږده

ما ته بې واره ټپه خوند نه را کوینه (۱۴۶م)

ما سره سمه سیالي مه کړه

ما د لنډیو سپارې لو ستلي دینه (۱۴۶م)

لنډۍ په د جنسیت له مخې په دوه ډولو باندې وېشل کېږي. په ښځینه او نارینه لنډیو باندې نومول کېږي. خبره داده چې ښځه انسان دی او د یوې ښځې له لیدلوري که هره خبره احساس او بیان کړي هغه ښځینه احساس دی او چې موږ ښځینه احساس په دې مانا واخلو دې ته ځای نه پیداکیږي چې د چا په شعر کې د ښځینه احساس یادونه وکړو دا احساسات خو له حسابه کتابه وتي او چې داسې ده یادولو ته یې هیڅ اړتیا نشته، خو دا چې اوس مو د ښځینه احساس خبره را اخستې لکه زلفې به لړ څه غځول غواړي. (۲۱۵۳م)

# ښځینه لنډۍ

یو شمیر شاعر ډولو ښځو کله کله داسې شعرونه ولیکل،چې خپل ځان یې پټ وساته ،هغه تصورات او خیالات یې بیان نه کړل چې د ښځې له وجود سره تړلي دي، نو دوی څه کول د نارینه خیالات یې بیانول یا یې خپلو ښځینه احساساتو ته د نارینه وو د احساساتو رنګ ورکاوه. [۱(۸۱م)]

دې ټکي ته چې د یو شمیر لیکوالو پام واوښت ، د ښځینه احساساتو بیل تعبیرونه مخې ته راغلل، او داسې و انګیرل شول چې د ښځینه احساساتو بیان یو ښایست دی ، که داسې وي بیا خو به نارینه احساسات هم وي خو ما لا له چا شاعره نه دي اوریدلي چې دا ډیر ښه شعر دی ځکه چې نارینه احساسات په کې راغلي، بله داده چې یو شمیر لیکوالان د ښځو شاعرانو هغو شعرونه د ښځینه احساساتو هنداره ګڼي، چې لږ څه بربنډ دي، چې هیڅ بې هیڅه باید ورته څوک ونه هڅول شي. [۱(۸۱م)]

ویل دا غواړم چې که ټوله شاعري دې ته وقف شي رنګارنګي او راښکون به له لاسه ورکړي. د پښتو شعر او ښځینه احساس خبره وي او د ټپې یادونه ونه شي،خبره به نیمګړې وي دا چې د ټپې د ویونکې هویت پټ انګیرل کیږي، هر احساس په کې دومره بربنډ راغلی چې تصور یې نه شي کیدی. ایا د نړۍ په بله ژبه کې مو د ښځینه احساس دا شدت لیدلی دی؟

ښکا رانغلې بد نصیبه

د کټ بازو راته سږی سږی کېدنه [۱(۸۲م)]

د لنډۍ ښځه د خپل بدن ښځینه غړي هم په عجب کیف سره بیانوي:

لاس په لستوني کې راتیر کړه

په کندارو انارو ووهه لاسونه[۱(۸۲م)]

د لنډۍ ښځه ربښتیا ربښتیا وايي که مېړه یې نه دی خوښ او یار یې نیولې دی هغه یې هم ویلي:

ستا په راتلو موزي قاربږي

زه به خولګۍ په دروازه کې درکومه [(۸۵م۱)]

د موزیګي نه وربږه ښه ده

چې نیمه شپه شي لوټ په لوټ مې اړوینه

توتان پاخه ممانې توري

زه د موزي د ډوډۍ څه پروا لرمه[(۸۵م۱)]

دا ښځه یوازې له بل نارینه سره د تار غځولو خبره نه کوي بلکې د مېړه سپکاوی هم په ډاډه زړه کوي په پښتو ټپه کې موزیګی همدغه مانا لري. که ښځینه احساسات لټوو او هغه هم په ټپه کې نو نږدی په هره دویمه دریمه ټپه کې به رامخې ته شي ځکه د لنډۍ خبره همدلته پریږدواو هغې شاعرۍ ته ورګرځو چې شاعرانې یې معلومې دي د لوڅو ښځینه احساساتو بیان همدوره ډېر و.

اوس بیرته خپلې لومړۍ خبرې ته ورګرځو او وایو که د شعر ویونکې شاعره له موږ خپل هویت پټ نه کړي هر احساس یې ښځینه احساس دی، او ځکه ښځینه احساس دی چې یوې ښځې کړی او بیان کړی دی؛ نو ښځینه احساسات تل مستونکي نه وي کله کله لوی تراژیدۍ په خپلې لمنې کې ورنغاړي د ځوانو پیغلو احساسات خو شته او خوند هم کوي خو یوه کونډه ددې ټولنې په پنجره کې څه راز ښځینه احساسات لري پروین ملال یې شهکاره تابلو ایستلې ده.

زما د مړ مېړه له مړینې

څلور میاشتې او لس ورځې تېرې

مور مې بیګاه راته ویل

تېزې جامې مه کوه

په حويلي کې په لوړ غږ باندې خبرې مه کړه [۱(۹۰م)]

شونډې دې وچې ساته

وېښته ځپوله پرېږده

لار دې راسته وباسه

د باندې چا ته د بهر چې ننداره ونه کړې

پام چېرې سترګې په رانجه چې نه کړې

هغه دې نه دي اورېدلي چا نه

کونډه، چې سترګې توروي

زړه يې مېږه غواړي[۱(۹۰م)]

***

پرونې سر له ديواله اوچت کړ

خوانبې مې وښکنځلم [۴(۸۸م)]

د خپل ماشوم په لټون

تر دروازې ولاړمه

لېور په غټو کانو وويشتمه

خسر مې ټولو ته اختر لپاره

د ښار نه ښکلې جامې راوړلې

زه چا پرې نه ښودم، چې لاس وروړمه

نندرور مې ویل لالا مې مړ دی ته جامې څه کوې؟ ۴(۸۸م)

***

اوس به اختر، برات، روژه

لکه پردي تېرېږي

اوس به ماښام

زما د کوټې لاټین په اوښکو بل وي ۴(۹۱م)

***

خسر مې وایي

چې د کونډې ډېوه مړه ښه وي

چېرې شیطان یې ننداره ونه کړي

چېرې د مړ مېړه په بڼه یې تر خوا ور نه شي ۴(۹۱م)

***

مور مې ویل، چې سترګې تورې نه کړې

کونډه چې سترګې توروې زړه یې مېړه غواړي ۴(۹۳م)

د ښځې احساسات پراخ دي او د ژودانه د رنګارنګیو غوندې تنوع لري د زينب سالک يو شعر رایاد شو،شعر کې د یوې مور احساس دی، چې د خپل ماشوم پر اړه یې لري په شعر کې ۴ کردارونه دي مور، ماشوم، مرغۍ او د مرغۍ بچی دلته د مور احساس چې ښځینه احساس دی دومره ساده بیان شوی چې هنري ښکلا یې رڼه ښکاري.

ای ګلالیه

ای خاموشه پرېدونکیه

بچیه واوره[۴(۹۱م)]

***

زه درته ځور او کړاو نه درکوم

زه دې له ځالې

را ایستل نه غواړم [۱(۱۱۹م)]

***

زه د وړوکي انس جان مور یم

زه عاطفه لرمه مینه لرم[۱(۱۱۹م)]

***

زه ګوره زړه لرم اولاد لرمه

ستا په وزرو کې[۱(۱۱۹م)]

یار مې د درنګ مالګو بادرنګ کړ

زه به ښېرا د کاروانه مشر ته کمه [۲(۱۵۳م)]

***

زما په رنځ جانان خبر دی

دارو خو نکړي تش مې نه کوي پوښتنه [۲(۱۵۳م)]

***

دبنې غرړ را باندې وشو

لکه ډوډۍ په تناره کې وریته شومه [۲(۱۵۴م)]

***

په لوړو غرو د خدای نظر دی

په سر یې واورې وروي چاپېر ګلونه [۲(۱۵۴م)]

***

اخر بهٔ وران شې پېښوره

د ننګرهار نجونې ښېرا درته کوینه [۴(۱۳۲م)]

وخت د ځوانې مې نیمه خوا شو

یار بې وفا شو ارمانې به ګودر له ځمه [۴(۱۳۲م)]

ما مخکې ولیکل، چې د ښځې ټول احساسات ښځینه وي، د خپلې خبرې د ثبوت لپاره د یوې شاعرې اناهیتا روهي تربتي چیغې درباندې اورم. هغه په یورپ کې اوسي؛ خو احساسات یې تر ډېره د یوې کیلوالې پښتنې دي، دا شاعره دومره په خپلو تجربو کې ورکه ده، چې د خپل ځای او زمانې شعور یې نشت ښکاري دا لاشعوري او د وجدان غبرګ بریښي فکر کوم د دې شاعرې تربتي چیغې به په ماضي کې هم د ډېرو هنرمندو مینه والو غوږونه ځک کړي.

حیا به یاده کړو دې سکې په نړیواله کچه هم ارزښت نه دی بایللی خو د پښتنو او مسلمانو ښځو ګاڼه ده. حیا هم ښکلا ده هم سپر راځئ دغه احساس د اغلې روهي په یوه لنډ سپین شعر کې ولولو.

غوښتل مې درغاړې وځم

چې درغلم، حیا راغله

ځنګ ته شوم

خدای چې ته پوه شوې کنه [۱(۱۴۶م)]

د ټپې پښتنه ډېره ددین او روحانیت په کیسه کې نه ده هر څه یې خپل فاني حسن او د جانان مجازي مینه ده، خو که څوک د پښتنې ښځې ریښتونی انځور ولټوي سخت دریځه مسلمانه مذهبي، او عرفاني ده همدغه عرفاني رنګ یې د شاعرې په یوه بل شعر کې ولولئ.

تا یې خیال هم

ګناه ګڼلو

ما یې پاکی ته

سجده وکړله

او د بلې شاعرې خوږې دا بیت شهکار ښځینه احساس لري.

زما د ژوند دا دومره ستره فیصله چې کیده

زما لالا ما سره یو ځل مشوره ونکړه

که په میوند کې شهید نه شوې

خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه[۱](۱۳۲م)

***

خال به د یار له وینو کیږدم

چې په شنه باغ کې ګل ګلاب وشرموینه [۱](۱۳۲م)

د هیواد ساتنې او دغلیم په وړاندې توره راپورته کول د آزادۍ تر لاسه کولو لپاره وي، افغانانو هم د تاریخ په اوږدو کې د دوې په هیواد هر تیری کوونکی مات کړی او ځپلی دی.

کله چې افغان جنګیالي د میوند په جګړه کې د انګریز لخوا له ماتې سره د مخ کیدو په حال کې وو، پیغلې ملالې د یادو تاریخي لنډیو په ویلو سره د غزا بیرغ پورته کړ او د غازیانو وینه یې په جوش او ولولو راوسته، افغان زلمیانو وکولای شو دښمن ته داسې تاریخي او نه هیرېدونکې ماتې ورکړي، چې تر نن ورځې دمیوند ملالې نوم دخلکو په زړونو او دتاریخ په پاڼو کې ځای لري.

لنډۍ چې ډیری وخت دښځینه وو له خوا نارینه وته په خطاب کې ویل شوي، خپل محبوب ته د میړانې کیسې کوي، له هیواده د سر ځارولو ورته وايي او جګړې ته یې هڅوي ترڅو جګړه وګټي او ازادي ترلاسه کړي.

د ازادۍ سندرې وایم

چې ځوانان ملا وتړي جنګ ته تیار شینه [۱(۱۶۳م)]

***

د ازادۍ په لارکې مړ شه

چې جنازه دې داسمان ملکې وړینه[۱(۱۶۳م)]

همدارنګه خپل مئین ته ډاډ ورکوي او ځان ورسره په جګړه کې شریک بولي او وایي :

جانان به ولې توره نکړي

تر نیمایي سنګره زه ورسره ځمه[۱(۱۶۳م)]

***

دازادۍ په ناوې جنګ دی

زلمي په مینه کې سرونه ورکوینه [۱(۱۶۳م)]

د دې لنډیو په څیر په زرګونو داسې نورې لنډۍ هم لرو، چې د میندو لخوا یې زامنو، د میرمنو لخوا یې میړنو او آن د خویندو لخوا یې ورونو ته د وطن او ازادۍ ګټلو په پار ویل شوي او نارینه یې د پردي ښکیلاک سره د مبارزې لپاره هڅولي، تر دې چې خپل وطن د یرغلګرو له منګولو وژغوري او آزادي ترلاسه کړي.

ګودر له ځم را پسې راشه

منګي مې دوه دي نرۍ ملا مې ماتوینه [۴(۱۸۴م)]

***

ګودر له ځمه را پسې را شه

ما په منګې کې پراتې را وړی د ینه[۴] (۱۸۴م)

***

ګودرته ځم راپسې راشه

زه به منګی په لپو ورو،ورو ډکومه[۴] (۱۸۴م)

***

ګودر ته ځم راپسې راشه

وخت مازد یکردی چې پرې وکړو د یدنونه[۴] (۱۸۴م)

***

ګودر له ځمه خو شحالیږم

چې مې جانان کرلې لاره کې سره ګلونه[۴] (۱۸۴م)

ګودر له ځم چې اوبه راوړم

په سرو منګلو به یې جانان له ورکومه[۴] (۱۸۴م)

***

ګودر له ځم چې منګی مات کړم

سپوږمۍ زړه شوه اوس تیاره کې یاره ځمه [۴](۱۸۵م)

ما سره سم ګودر له لاړ شه

منګي مې دوه دی نرۍ ملا مې ماتوینه[۴](۱۸۵م)

ګودر د پښتنو د کلتور د کتاب هغه رنګینه پاڼه ده، چې له نوم څخه یې د سړي زړه ته دیدنونه، مینه او ښکلا خپل ځان ورښکاره کوي، او د ښایستونو د یوې ټولګې په شان ورته ځان ښکاره کوي. څرنګه چې دنوم څخه معلومیږي چې ګودردپښتوژبې سوچه کلمه ده اودپښتنوټولوسیموکې دګودرکلمه عامه ده . کله چې موږ د ګودرکلمه په خوله اخلو نوحتمآ زموږذهن ته دپېغلې، منګي او ماذدیګري کلمې راځي .داهغه کلمې دي چې دپېغلو،ځوانانو،شاعرانو،سندرغاړوله خواپه داسې الفاظواو کلموکې ستایل شوي چې انسان داوریدولو توان په ځان کې نه ویني چې په اوریدلوېې دځوانی جزبه او د مینې ولوله راپاروي . دپښتنو په سیمه کې دګودرغاړه په مازدیګري کې د پېغلو په تودواکاړو ګرمه وي ځکه چې دا داسې ځای دی چې خپلې همزولې په کې جمع کیږي . ګودر چیرې چې ښکلې او مستې پیغلې د اوبو راوړلو په بهانه خپلو همزولو سره د زړه خواله کوي، خوښي کوي، د خپلو مینو دیدنونه کوي. ګودر د ویالې او چینې سره هغه ځای ته ویل کیږي، چې په هغه ځای کې د منګي خوله په اسانۍ سره د اوبو په واسطه ډکیږي. او د هغه سره نږدې کورونه د خپلو ورځنیو ابو د پوره کولو کار اخیستل کیږي، چې ګودر ته معمولاً انجونې ځي او ډیرې په خوښۍ د ګودر څخه د اوبو راوړلو ته خوښیږي. څرنګه چې زموږ په وطن او په ځانګړې ډول د پښتنو په سیمو کې د ښځو په تګ راتګ، میلو او مستیو ته اجازه نه شته دی او نه هم په کې بې له ګودر څخه کوم بل ځای شته دی، نو پښتنې انجونې ګودر ځانته په دنیایي جنت کې شمېرې، ځکه چې هلته د خپلو همزولو انجونو سره د زړه د نرۍ رازونه شریکوي او د خپلو یارانو سره د دیدن څخه خوند اخلي، څوک په کې نوی د یارانې تار غځوي او څوک په کې خپلو زړو

يارانو ته ټينګښت تارونه تړي. دلته يوه پښتنه انجلۍ د خپل يار د ديدن لپاره په ځان تکليف مني او کوز ګودر ته اوبو پسې ځي، چې هغه د پښتنو په قول په يوه تېر دوه ښکاره کوي، چې وايي:

اوبه د هر ګودر خوږې دي

جانانه ستا دپاره کوز ګودر ته ځمه [۴(۱۸۵م)]

دلته د ګودر په بهانه د يار د ديدن کولو سربېره د پښتنې انجلۍ د مينې سپېڅلتوب هم ځان ښکاره کوي، چې د خپلې مينې لپاره په ځان تکليف ګالي او د يار ديدن کوي. په ګودر کې نه يوازې د انجونو خنداګانې او د بنګړو شرنګهار شتون لري، بلکې هلته د ګودر څخه يوه څه لرې په هغه سيمه کې چې ګودر ورته ښه مالوميږي. ډېر زلميان هم ليدل کيږي، چې ډېرو انجونو په منځ کې د يوې انجلۍ د سالو خبره داسې په لنډۍ کې رانغاړي:

پر ګودر سور سالو ښکاره شو

ما وې دې تورو اوبو اور واخيست مينه[۴(۱۸۶م)]

دلته د سالو يا ټکري سور والی او هغه هم د يوې داسې انجلۍ په سر چې په مستۍ ورځينې هخوا دېخوا سر اخلي او دا پرې د خپل مين زړه زخمي کوي.

اشنا مې سر په وطن کېښود
په تار د زلفو کفن ورته ګنډمه [۱(۱۸۹م)]
اوس به دې يو موټې ايرې کړم
که خماري سترګې دروارم مينه [۱(۱۸۹م)]

لومړی خو ما، خدای مه کړه، د پښتنو ښځو او پېغلو له استعداد او پوهې څخه هيڅ وخت انکار نه دی کړی. دغه ګړی، په افغانستان کې دننه او له افغانستان څخه دباندې، داسې ځواني نجوني او مېرمني لرو چې نه يوازې په شعر او نثر کې له نارينه وو سره سيالي کولای سي بلکه د ډېرو

نارینه لیکوالانو، شاعرانو او ځېړونکو زور نه په رسېږي. خو زما خبره د نن څخه سل دوه سوه یا درې څلور سوه کاله مخکي زمانې ته متوجه ده. هغه زمان چي ښځو سواد نه درلود او په قفسونو کي ساتل کېدلې. نه یوازي یې سواد نه درلود بلکه د ټولني ظالمانه حاکمو قوانینو د یوه پردي زلمي سره د میني د څرګندولو په بدل کي د هغوی سرونه غوڅول. لیري به نه ځو، د یویشتمي پېړۍ په شرایطو کي چي د لویو او پرمخ تللیو ښارونو په منځ کي ځواني نجلۍ ته د خپلي خوښي د زلمي د انتخابولو حق نه ورکول کېږي او حتی له کوره ایستل کېږي او یا له زلمي سره یو ځای وژل کېږي، نو سل کاله مخکي تصور کول خو بیا ډېر ګران کار نه دی.

لومړی خو زه د ټولو منقدینو، په تېره بیا د پښتو لنډیو د ځېړونکو، توجه دې غلط مشهور ته را اړوم چي فکر کوي د پښتو اکثریت لنډۍ ښځو او نجونو ویلي دي. په دې لنډیو کي یې د سوځنده میني اظهار کړی دی، کله یې خپل زلمي مینان د جنګ میدانونو، توري وهلو او مړاني ته تشویق کړي دي او کله یې د اجتماعي بې عدالتیو په مقابل کي بغاوت کړی دی. په داسي حال کي چي خبره دا سي نه ده بلکه په ثبت سویو لنډیو کي( که چیري ښځو ته منسوبي سوي لنډۍ ریشتیا هم د ښځو وبولو) اوس هم د نارینه وو ونډه زیاته ده. د پېښور د پښتو اکاډیمی مخکنۍ رئیسي ډاکټري سلما شاهین د پښتو لنډیو په راغونډولو ډېره خواري کړې او د روهي سندري په نوم کتاب کي یې څه د پاسه پنځه لس زره لنډۍ راغونډي کړي دي. د کتاب په هر مخ کي درویشت لنډۍ راغلي دي او ما په اټکلي ډول د کتاب دوه دوه مخه را واړول. نتیجه د هغو ځیړونکو مخالفه ده چي ګومان کوي د لنډیو ډیره زیاته فیصدي د ښځو له خوا ویل سوی دي.

۳۴۰. ۳۴۱ مخونو په شپږڅلویښتو لنډیو کي یوولس ښځو ته منسوبي دي. د ۴۶۳-۶۲ مخونو کي د شپږڅلویښتو لنډیو څخه یوازي څلور لنډۍ ښځو ته منسوبي دي. د ۱۴۳-۴۲ مخونو د شپږ څلویښتو لنډیو څخه شپاړس لنډۍ، د ۲۰۸-۲۰۹ مخونو د شپږ څلویښتو لنډیو څخه ۱۴ لنډۍ، د ۲۶۱-۶۰ مخونو د شپږ څلویښتو لنډیو څخه دیارلس لنډۍ، د ۷۹.۴۷۸ مخونو د شپږ څلویښتو

لنډیو څخه شپاړس لنډۍ او د ۹۸. ۹۹ مخونو د شپږڅلوېښتو لنډیو څخه یوازي شپږ لنډۍ ښځو ته منسوبي دي.

زه د ټولو لیکوالانو، په تېره بیا د پښتني فوکلور د دې ارزښتمن ژانر په باب څېړونکو او لیکوالانو نظریاتو ته احترام لرم خو صرف دونه پوښتنه ورڅخه کوم چي دوی کله دا تصور کړی دی چي د یوه لوی خان یا غریب پښتانه په کور کي یوه ښایسته نجلۍ پر کوم ځوان باندي مینه وي او د میني اظهار په شعرونو او سوځنده غلبلو کي وکړي. د هغې پېغلي ځای به چیري وي؟

جانانه را سه ځان اوبه که

پر سپین باړخو مي خولې ډم ولاړي دینه [۱(۲۰۲م)]

دا پېغلتوب مي په غم زوړ کي

خیالي ځوانان را باندي مري خونکاره سومه [۱(۲۰۲م)]

تاسي فکر وکړی؛ یوه پېغله په خپل کلي یا شاوخوا کي دونه مشهوره سوې ده چي د هغې سره د میني په سیالي کي د رقیبو زلمیو ترمنځ په جنګونو کي څو ځوانان وژل کېږي او دا پېغله لا بیا هم ژوندۍ ده او لا لنډۍ جوړوي او په کور او محیط کي یې ښایي پلار او کاکا په جګ سر ګرځي او هیڅ نه ورته وایي!! او یا په وازه خوله نارې وهي او خپل یار د خپل سپین باړخو په خولو د اوبولو لپاره را بولي او څوک څه ورته ویلای نه سي یا نه ورته وایي.

ولې دې بد راسره وکړه

ما په همزولو کې ویل چې یار لرمه [۱(۲۰۲م)]

نجلۍ د کلي په همزولو کي د یار نوم اخلي او د هغه په یاري ویاړي او لا پر اوږو باندي سر ورته پاته دی!

## نارينه لنډۍ

لنډۍ د پښتو ادب هغه شتمنه، ارزښمنه اوخوندوره برخه ده، چې په لنډه څولۍ کې يو عالم مفاهيم په خپل هنري څواک وړاندې کولای شي.

دا خوږ ژانر يواځې او يواځې پښتنو او پښتو ژبې پورې محدود دی، چې په نورو ژبو کې يې څرک هم نه ليدل کيږي. که څه هم د لنډيو شاعران مالوم نه دي، خو دا څرگنده ده، چې لنډۍ د ولس مال دی دولسونو افکار، تصورات، غمونه، دردونه، خوښۍ، احساسات ، مينې، د اتلانو د اتلولۍ ستاينې، کيسې، د يار د بې وفايۍ شکايتونه او د افغاني او پښتني کلتور مذهبي، سياسي،عشقي،ټولنيز او فلسفي افکار او مضامينو ته پکې ځای ورکړل شوی دی. ختيځ پېژندونکی او د پښتنو پر فلکلور مئين ډار مسټر لنډۍ دپښتنو مطبوعات بولي او ځينې ختيځ پېژندونکي څېړونکي يې د پښتو ژبې زده کړې او پر پښتو ادبياتو څېړنې ته هڅولي دي.

د پښتنو په غرو او رغو کې ، په کليو او ښارو کې ، په شنو درو او لويو دښتو کې ، د ابشار خنګ او د کږدۍ اړخ ته د چوپان په شپېلۍ او د بنوال په درو کې بلاخره د پښتنو د خاورې په هر ګوټ کې له دی اشعارو څخه په يو شان خوند اخيستل کيږي . زاړه يې د ځوانۍ د خاطراتو په ياد وايې ، زلميان او پيغلې يې د خپل زلميتوب شور او مستي پکښې لټوي ، مينانو ته د راز او نياز رويباری کوي ، توريالی ورسره د تورو په ميدان کې ګډيږي او مسافر يې په مسافري کې د خپل وطن تنده پرې ماتوي . د اشعرو نه چې څومره ساده، سليس او روان دی هغومره د پرديو ژبو له اغيزې څخه پاک او سپيڅلې دی.

د لنډۍ ونې نه دی ځار شم

لکه سيسي چې په کمر ولاړه وينه [۴](۱۹۰م)

***

باور مې نه شی که به روغ شم

بلا زخمو نه مې په زړه دی مړ به شمه [۴](۱۹۰م)

د روغيدو تمه مې نه شته

جانان په غشو د ښنو ويشتلی يمه [۴](۱۹۰م)

***

بانه دې ورو جګ کړه شيرينې

ما ته دې سم د زړه په سر ټو مبلې دينه[۴](۱۹۰م)

د لنډۍ بله ځانګړنه داده، چې شاعر يې معلومه نه وې د هر چا يعنې د هر پښتا نه او پښتنې د خيال او زړه خبرې دي . بله داچې وخت او ځايې هم معلوم نه وې ، چې د چا له خوا ،څه وخت ،او په کوم ځای کې ويل شوی دي ،او نه يې چا ته د تعداد پته لګيږی . د لنډيو کتابونه چاپ شوی ، خو د تعداد په اړه يې څوک څه نه شی ويلی او نه يې کوم ليکوال ته څوک منسو بولی شی ،او نه څوک په ويلو کې انتيظار باسي.

لنډۍ چې د پښتو ولسی ادب او فلکلور اساس تشکلوی. د ژوند په هره بر خه کې د خپل مو ثر يت مظاره کړی وپښتا نه ځوانان او پيغلې يې د مينې، هجران، و صل، غم، او خو شحالی په حالتونو کې وايې، مشران يې په خپلو خبرو کې د ځينو مسايلو د تايد لپاره وايې. حتی کله کله ترې د متل په حيث د خپلو خبرو د قوت لپاره کار اخېستل کيږی؛ نو ويلای شو، چې په لنډيو کې د انسان ژوند هر اړخ او هره پيښه انځور شوی ده، چې دا انځوريدنه په ساده او روانه ژبه، چې د ولس ژبه ورته ويل شوي ده؛ نو ځکه ورته ولسی ادب وايې. دلته د ټو لنيز ژوند د څو اړخونو او پيښو يا دونه کوم، چې په پښتو لنډيو کې په څومره ساده، روان او ظريف انداز را نغاړل شوی او يو اوږده کيسه يې په لنډو الفاظو کې بيان کړې. د يو باتجربه کس خبره په دې لنډۍ کې داسې بيان شوې ده:

زه په عاشق سرې پوهیږم

یا یې رنګ زیړ وي یا یې شونډې وچې وینه[۴(۱۹۲م)]

په دې که شک نه شته، چې په عاشقی او مینه کې جذبې، غم، خوشحالی، منت، پیغور او تهمتونه وي، چې دا یو حالت هم د لنډیو نه دی او هر یو یې په خپل وار تعریف کړی. هر حالت یې ژبه ور کړی او غږو کې یې دي او په هغه ژبه کې غږولی په کومه، چې ټول پښتون قوم پوهیږی لکه د جداېې به وخت یې عاشق خپلی معشوقې ته د اسی وایې:

جانانه دومره را سره وې

لکه بریښنا چې د بارانه سره وینه[۴(۱۹۲م)]

***

چیرته چې علم حاصلیږي

هلته به خاوری کړمه غوښې خپل هډونه [۴(۱۹۴م)]

***

مورې لنډۍ توره مې راکړه

پر دین غزا ده زه خپل ځان شهیدومه [۴(۱۹۴م)]

ډیر زلمیان هم لیدل کیږي، چې ډیرو انجونو په منځ کې د یوې انجلۍ د سالو خبره داسې په لنډۍ کې رانغاړي:

پر ګودر سور سالو ښکاره شو

ما وې دې تورو اوبو اور واخیست مینه[۴(۱۹۴م)]

دلته د سالو یا ټکري سور والی او هغه هم د یوې داسې انجلۍ په سر چې په مستۍ ورځیني هخوا دېخوا سر اخلي او دا پرې د خپل مین زړه زخمي کوي.

یا هم کومو زلمیانو، چې د ګودر د غاړې د مستو انجونو کتار او ټولګه لیدلې وي، هغه بیا ځان د ګودر د غاړې په شان غواړي، چې د انجونو د سرتاج شي او یا هم انجونې یې په خپل لاس راوشکوي او د زړه په سر یې کېږدي. لکه چې وایي:

خاونده ما د ګودر ګل کړې

چې جینکۍ مې شوکوي سر کې مې ږدینه[۱(۱۷۲م)]

دلته د هغه ګل یادونه شوې، چې د ګودر په غاړه وي او نجونې هغه راشکوي او په خپلو وېښتانو کې یې د مستۍ د نښې او د وېښتانو د ښایست لپاره ټوکوي، چې د خپل مین زړه پرې ټکور کړي. یا هم ځینې میینان ګودر ته د ټولو انجونو او یا هم د جوړه نجونو له تګ څخه سرټکوي او د خپلې مینې سره د بلې نجلۍ راتګ ورته ټکه ښکاري، لکه چې وایي:

په ګودر څه ټکه لویدلې

چې کشره خور یې بدرګه ورسره ځینه[۱(۱۷۲م)]

د پښتنو د کلتور د کتاب د پاڼو څخه دا جوتیږي، چې پښتانه انجونې یوازې حتا ګودر د اوبو پسې هم نه لېږي، یا یې کشره خور او یا هم کشر ورور ورسره لیږي، خو دلته دا کشره خور دې خوار عاشق ته د ټکې په څېر راغلې، چې دی یې د خپلې مینې سره د همرازۍ څخه بې برخې کړی دی. که څه هم د مور څخه خوږه او نیږدې څه نشته خو کله چې یوه نجلې په کورکې د مور او پلار له خوا ورته رد او بد وویل شي هغه خپل ډک زړه ګودرته وړي.
چی پیسی نلری بدرنګ وی

داخوپیسی دي چې بدرنګ ښایسته کوینه[۱(۱۷۹م)]

چې دولت نلری خواران وی

هغوی خپل کورکی هم بی قدره غوندې وینه[۱(۱۸۲م)]

که سل عیبونه درپکی وی

پیسی پیداکړه درنه سپین چرګ جوړوینه[۱(۱۸۲م)]

***

علم اوپوهه پکارنده

زمونږپه وطن کی دولت مند عزت لرینه[۱(۱۸۲م)]

***

هوښیاران وړی تړی ګرځی

څوک یی سلام ته وعلیک نه وایی عالمه[۱(۱۹۷م)]

***

دچا آرمان کی پوره نشو

هرچادنیانه وړی ګورته ارمانونه[۱(۱۹۷م)]

***

په پیاله ګی یی چاره نشی

یاره داغتې چای چوش راوړه چی تړی یمه[۱(۱۹۷م)]

ماپه داخروطن کی خښ کړی

خرپښتانه به راته لاس پورته کوینه[١(٢١٨م)]

***

چی محبت یی زړه نوی

کله هندوبی کلیمی ژوند تیروینه[١(٢١٨م)]

***

چی مینه نلری په زړه کی

د صحرا خر دی سهار ځی ماښام راځینه[١(٢١٨م)]

***

که مور او پلار دی خداي رضا کړل

د ماما ګانو به دې زنې ونیسمه[١(٢١٨م)]

زمو نږ په پښتنه ټولنه کې دا دود دی، چې د نجلۍ په غوښتنه کې لومړۍ حق د پلار او مور دی . دهغوی د رضا حاصلول یوه حتمې خبره ده ، خو کله کله یا په اکثره ځا یونو کې ماماګان هم ددې صلاحیت لری چې نجلۍ دواده او یا په عامه اصطلاح د برخلیک په ټا کلو کې رول ولري، چې په پورته لنډۍ کټ مټ مفهوم په لنډو الفاظو کې رانغاړل شوی دی او یا دا لنډۍ:

په ما دې ټول کلی خبر کړ

په تا دې یو دادا خبر دی زړه دې چوینه[١(٢١٨م)]

دلته هم د کلمو د رواجونو او دودونو مسله ده، چې په پښتنو کې یادونې پټې وي او که دغه راز په ډاګه شی، نو بد عواقب به ولري.

پښتانه مینان هم ځان یو له بله قربانوی . او دا خو ښکاره ده چې ښتانه په قربانې او ځان تیرونه کې نوم لری لکه دا لاند ې لنډی:

د غرغری میدان ته راشه

سبا مې ستا په تهمت دار ته خیژوینه[۴(۲۱۲م)]

معشو قه بیا د خپل غاشق پدی حال فخر کوی . او ویاړی ،چې دا قر بانې یوائی او یوائی ددي مینې ته ورکوی . او خپل سپیڅلی روح د یوی سپیڅلی مینې قر بانوی . او وایې:

خاونده ټوله مې تری زار کړی

زما په سر یې غرغري منلی دینه[۴(۲۱۲م)]

اسمان په ستورو ښایسته دی

لکه د پیغلې نجلی غاړه په خالونه [۱(۱۹۸م)]

اسمان په ستورو ښایسته ښکاري

د مځکی سر په ښکلو ښکلو خوند کوینه

اسمان په ستورو ښایسته ښکاري

لکه لیلا چې په مخ ووهي خالونه

اشنا په ټوکو نه پوهیږي

ما په خورو زلفو وهه مرور شونه[۴(۲۱۲م)]

اشنا په خوله کې ژبه غواړي

په خوند یې نه دی خپل قلنګ جاري کوینه[۴(۲۱۲م)]

اشنا چې هسې مخ ښکاره کړي

د بېلتانه په تیارو لمر وخېژوینه

اشنا چې هسې مخ ښکاره کړي

د بېلتانه په تیارو لمر وخېژوینه

اول به پښې د جانان ښکل کړم

بیا به ژړا کې ورته ووایم حالونه [۴(۲۱۲م)]

# پایله

له دې ليکنې څخه زمونږ اره موخه او هدف دادی، چې پښتو ادب او دپښتو ولس ټول معنوي ارزښتونه خوندې وساتل شي او د ليکنې منځپانګه او نتيجه داده، چې پښتو ولسي ادب د پښتنې کلتور ريښتيني هنداره ده او دې ولس دژبې، عنعنی او مېتولوژی نماينده ګې کوي. ولسي ادب دخلکو دروان او اروا پوهنې انځور تمثيلوي او په پيداګوژيکې جنبه خپل ولس دښوونې او روزنې ډګرکې په فکري لحاظ روزي . فولکلور زمونږ د تاريخ ژوندی کوونکی عنصر دی. افسانې ،متلونه او منظوم ولسي ژانرونه ټول معنوي ارزښتونه په خپل غېږ کې رانغاړي او چېستانونه دماشومانو ذهنونه پياوړي کوي، دود او انګېرنې د ولس سوچه او نګه تومله په خلکو کې ساتي .

لنډه دا، چې فولکلور دولسونو او پر ګنو ټولنيزه هنداره ده. د اوسنی پر مختللې نړۍ د پر مختګ تاداو په پخواني او لرغوني فولکلور کې ايښودل شوی او د رياليزم بنسټ او سر چينه همدا ولس او ولسي ادبيات دي.

مېتولوژي او روايات ټول له عاميانه افکارو څخه راغلی ، چې د دوی د عقايدو غوښتنو او تعبيرونو ممثل دی. په دې افکارو، رواياتو، او افسانوکې په غالب ګومان بهرنی او نه ټاکونکی او طبيعي عناصرو خواوې ستره برخه لري، چې د شخصي عناصرو او افرادو په قالب کې را مينځ ته شوې او هغه څه، چې په دې اساطير ( مېتولوژی ) او فولکلور کې د زياتې پاملرنې وړ دي هغه د فولکلور سمبوليکي خواوې او اتلانو پټ او مرموز کارونه دي. له دې اساطيرو او افسانو څخه د مړو او وروسته پاتې قومونو ښکاره او څرګند حقيقت دی، په اصطلاح کې فولکلور د خلکو او ولسونو عنعنو او عقيدو پېژندنې علم دی.

## وړاندیزونه

ما کله دا مونوګراف چمتو کو، په ځینو اړخونو کې د لوی لوی ستونزو سره مخ شوم. هغه دا چې اوس وخت کې هم په کره توګه د لنډیو او شفاهي ادبیاتو لپاره سم کار نه دی شوای. موږ په ډېرو پوهنتونو کې استادان لرو؛ خو څو تنو محدودو په دې لړ کې کار کړی دی، د هغو څخه مننه کوم، چې لنډیو او شفاهي ادبیاتو ته یې خدمت کړی او هغه استادان چې په نامه استادان دي له دوی څخه هم هیله لرم، چې د پښتو ژبې او ادب لپاره ګامونه پورته کړي. او په پای کې څو وړاندیزونه لرم:

۱. د لنډیو او شفاهي ادبیاتو هره دوره دې څو ځله باید چاپ او خپور شي.

۲. د پوهنې وزارت څخه مې هیله ده، چې د لنډیو او شفاهي ادبیاتو هره دوره دې په ټولګیو کې د نصاب په چوکاټ کې لوست شي.

۳. د لوړو زده کړو وزارت دې هم لنډیو او شفاهي ادبیاتو ټولې دورې چاپ کړي.

۴. د مرکزي حکومت باید د پښتو ژبې ودې لپاره یو ځانګړی کمیسون جوړ کړي.

۵. د کلتور وزارت پاملرنه د لنډیو او شفاهي ادبیاتو او د ژبې تاریخ ته واړوي.

## اخځلیک


۱. دوست، دوست محمد. (۱۳۵۶ل). **د پښتو ولسي ادب لارې**. کابل: پښتو ټولنه دولتي چاپخونه.

۲. رفيق، محمد رفيق. ( ۱۳۹۵ل). **د ادبپوهنې بنسټونه**.جلال اباد: ختيځ خپرندويه ټولنه.

۳. رفيع، حبيب الله. ( ۱۳۹۶ل). **فولکلور د علم مور**. کابل: امان کتاب خپرندويه موسسه.

۴. رفيع، حبيب الله. ( ۱۳۴۹ل). **د خلکو سندرې**. کابل: دولتي مطبعه.

۵. منګل، علي محمد. (۱۳۸۵ل). **د پښتوځينې فولکلوري روايات**. کابل: ازهر خپرندويه ټولنه.

۶. وفا، محمد داود. (۱۳۹۳ل). **د فکلور پېژندنې لارښود**. ننګرهار: مومند خپرندويه ټولنه.

۷. هېوادمل، زلمی.( ۱۳۷۹ل). **د پښتو دابياتو تاريخ لرغونې او کلاسيکه دوره**. پېښور: دانش خپروندويه ټولنه.

۸. هاشمي، سيد محی الدين. (۱۳۹۴ل). **ادبپوهنه**. پېښور: مېهن خپرندويه ټولنه.

۹. يون، محمد اسمعيل.(۱۳۷۷ل). **د پښتو شعر هندسي جوړښت**. کابل: دانش خپرندويه ټولنه.

۱۰. يون، محمد اسماعيل.(۱۳۹۴ل). **د پښتو ادبياتو تاريخ**. کابل: دانش خپرندويه ټولنه.